# د تولید ډولونه

### د هګیو او غوښې د تولید کوچني فارمونه:



د افغانستان په ډیرو کلیوالوسیمو کې خلک د هګیو چرګان په کوچنیو فارمونو کې د غوښې او هګیو د ترلاسه کولو لپاره روزي. دغه روزنه د کورونو په انګړ یا هم شاوخواکې د ساده وسایلو په مرسته په کوډیو کې ترسره کیږي. معمولاً ددې چرګانو نسلونه اصلاح شوي یا دوه مقصده وي او په یادو سیمو کې خلک د چرګوړو تولید په دوه لارو سرته رسوي طبیعي او مصنوعي یعنې د ماشین په واسطه.

### دهګیو چرګانو لوی تولیدونکي فارمونه:



خلک هګۍ اچوونکي چرګان د هګیو دتولید لپاره روزي په دې موخه د چرګانو ځانګړي دوه رګه نسلونه د لوړ تولید لپاره چې دیو کال په اوږدو کې له کُړکیدو پرته تقریبا ۳۰۰ هګۍ اچوي، تر روزنې لاندې نیسي او نوموړي چرګان د افغانستان د اقلیمي شرایطو سره ښه توافق لري .

### د چرګانو روزنه دغوښې دتولید لپاره:



ډیری وخت د غوښې د تولید لپاره د چرګانو ځانګړي ډولونه روزل کیږي. دغه ډول چرګان ژر وده کوي او له ۵ څخه تر ۷ اوونیو پورې د حلالولو لپاره چمتو کیږي. د غوښینو چرګانو ځیني ډولونه ورو وده کوي، چې د ۱۴ اونیو په بهیر کې د حلالولو پړاو ته رسیږي، نوموړي نسلونه دغوښینو چرګوړو په نوم یادیږي.